**غزال حارس، په افغانستان کې قضايي بياکتنه: يوه نيمګړې کړنلاره**

**لنډيز**

قضايي بياکتنه هغه واک دی چې يوه محکمه يا ورته اداره يې لري، ترڅو قوانين او دولتي کړنې له دې نظره وګوري چې آيا له اساسي قانون سره مطابقت لري که نه. د قضايي بيا کتنې مفهوم چې په لومړی ځل په متحده ايالاتو کې د ماربري پر وړاندې ميډيسن (*Marbury v. Madison*) د قضيې له لارې رامنځته شو، له دويمې نړيوالې جګړې راوروسته په نړيواله کچه پراخه شو او نن ورځ د مشروطيت او د قانون واکمنی يو اساسي عنصر ګڼل کېږي. د شلمې پېړۍ په اوږدو کې د افغانستان په بېلابېلو اساسي قوانينو کې د قضايي بياکتنې يادونه شوې، خو د ۱۳۶۶ کال (۱۹۸۷) اساسي قانون دا واک په څرګنده توګه شامل کړ. د ۱۳۸۲ کال (۲۰۰۴ م) اساسي قانون سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبيق د څار خپلواک کميسيون (ICOIC) دواړو ته واک ورکړ چې د اساسي قانون د تطبيق ډاډ ترلاسه کړي. سره ددې چې دغه احکام په پيل کې د قواوو د توازن د ساتنې يو پياوړی ميکانيزم ګڼل کېدل، مګر هغه ابهام چې د اساسي قانون ۱۲۱ مې او ۱۵۷ مې مادې رامنځته کړ، قضايي بيا کتنه يې په يو جنجالي بحث واړوله. د سترې محکمې له خوا متضادو او سياسي تفسيرونو د هغې اعتبار زيانمن کړ او د اتباعو د حقونو د خونديتوب توان يې راکم کړ. همدارنګه، ياد کميسيون ونه توانېد چې د څار په برخه کې خپل رول عملي کړي، بلکې د اساسي قانون پر تفسير د تمرکز او د ادارو ترمنځ سياليو کې ښکېل شو، او د قانونپالنې او د قانون د واکمنۍ د پياوړتيا له اصلي موخې واوښت.

**ليکوال**

غزال حارس د اساسي قانون پر تطبيق د څار خپلواک کميسيون (ICOIC) کمېشنره او د افغانستان امريکايي پوهنتون (AUAF) د حقوقو د پوهنځي مرستياله استاد ده، چې د اساسي قانون مضمون تدريسوي. په افغان امريکايي پوهنتون کې له خپلې دندې مخکې هغې د افغانستان د کليوالو تصديو د پراختيا د ملي برنامې اجرائيوي مشري کړې، چې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د ملي لومړيتوب پروګرام وو. هغې د ۲۰۰۴ ولسمشريزو او ۲۰۰۵ پارلماني ټاکنو پر مهال د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ (FEFA) مشري هم کړې وه. نوموړې د مجارستان د بوداپست په مرکزي اروپايي پوهنتون کې د څېړنې فيلو وه، چې د اروپا د اساسي قانوني محکمو د واکونو او د هغوی د فعاليتونو څېړنه يې کوله. هغې د لندن پوهنتون د ختيځو او افريقايي زدهکړو له پوهنځي (SOAS) څخه د حقوقو د ماسترۍ (LLM) سند ترلاسه کړی دی.

**علي وردک، د افغانستان د عدلي نظام د بيا رغونې يو نيمه لسيزه**

**لنډيز**

دا مقاله د طالبانو تر سقوط وروسته په افغانستان کې د عدلي نظام د بيا رغونې پنځلس کلنې هڅې تر ارزونې لاندې نيسي. دا مقاله د دولتي قضايي نهادونو—محاکمو، څارنواليو، پوليس، او محابسو—بيا رامنځته کېدل څېړي، چې دا چاره د نړيوالو ټولنې او په ځانګړې توګه د متحده آيالاتو د پراخو مرستو په اساس تر سره شوه؛ خو پايلې يې د پراخ فساد، کمزورې همغږۍ، کمو سرچينو او د عامه اعتماد د ټيټې کچې له امله محدودې پاتې شوې. سره له دې چې تر يو ميليارډ ډالرو ډېر لګښت وشو، رسمي عدالت لا هم د ډېرى افغانانو لپاره، په ځانګړي ډول په ناامنه غير ښاري سيمو کې د لاسرسي وړ نه دی. له همدې امله د غيررسمي عدالت ميکانيزمونه لکه جرګې او شوراګانې، لا هم د هغو د چټکتيا، لاسرسي او کلتوري مشروعيت له امله ارزښتمن ګڼل کېږي او لا هم د سيمه ايزو شخړو په حل کې برلاسی لري. که څه هم دغه ميکانيزمونه کله ناکله د نافذه قوانينو او بشري حقونو له معيارونو سرغړونه کوي، خو عامه باور پرې لا هم زيات دی. دا مقاله د داسې ګډ (مختلط) موډل وړانديزوي چې د رسمي او غيررسمي عدالت سيستمونه، چې د افغاني ټولنې په دودونو کې ټولنيزې او اخلاقي ريښې لري، سره وتړي. مقاله په پايله کې استدلال کوي چې د عدلي سيستم ريښتوني اصلاحات مشترک او واحد ليدلوري، همغږۍ، او په افغانستان کې د مشروعيت د غير رسيمي سرچينو مشارکت ته اړتيا لري.

**ليکوال**

علي وردک يو جرم-پوه (کريمنولوژيست) او حقوقپوه دی چې د عدلي اصلاحاتو او ګډو (هايبرډ) عدلي سيستمونو په برخه کې تخصص لري. هغه د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه ليسانس او د اېډنبرا پوهنتون څخه د کريمنولوژي (جرم پوهنې) په برخه کې دوکتورا لري. نوموړی اوسمهال د سويل ويلز پوهنتون (University of South Wales) د جرمپوهنې پروفيسور دی او د قانون حاکميت او جګړې وروسته عدالت اړونده پروژو کې کار کوي، چې يوه يې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP) له خوا په افغانستان کې د ۲۰۰۷ د بشري پرمختيا راپور دی. نوموړی د

۲۰۱۳ «رادزینویچ» جایزې ګډ ګټونکی دی او د افغانستان د عدالت، پولیسو او سولې جوړونې په اړه پراخ علمي اثار لري.

**جېفري سوېنسن، ولې د متحده ایالاتو له لورې په افغانستان کې د قانون حاکمیت د پیاوړتیا هڅې ناکامه شوې**

**لنډیز**
په ۲۰۰۱ م کې د طالبانو د نظام له نسکورېدو وروسته په افغانستان کې د قانون حاکمیت پیاوړتیا د امریکا د بهرني سیاست مهم هدف ؤ. پالیسي جوړوونکو د قانون حاکمیت تر چتر لاندې د عصري، ډیموکراتیک دولت په جوړولو ډېره زیاته پانګونه وکړه تر څو له شخړې وروسته یو لیبرال نظام رامنځته کړي. په دې توګه د عدالت سکتور ملاتړ د بیا منظم شویو طالبانو پر ضد د شورش ضد ستراتیژۍ ستنه هم وګرځېده. خو د ۲۰۰۴–۲۰۱۴ کلونو تر منځ د لویو امریکایي نوښتونو سیستماتیک تحلیل ښیي چې مرسته پر شکمنو اټکلونو او د ستراتیژۍ پر داسې انتخابونو ولاړه وه چې خپله د پوښتنې وړ وو. سره ددې چې د ولسمشر اوباما په وخت په دې برنامو په ډراماتیکه توګه پراخه مصارف وشول، یادې برنامې د قانون حاکمیت د پیاوړتیا په برخه کې له ناکامۍ سره مخ شوې.
دې مرستو د دولتي چارواکو تر منځ د کرایې-طلبۍ، فساد او معافیت کلتور ته وده ورکړه. د عامو دعوو برخلاف، د قانون حاکمیت نوښتونو د شورش ضد هڅې پیاوړې نه کړې. په افغانستان کې د امریکا تجربه څرګندوي چې د قانون د حاکمیت په برخه کې مؤثره مرسته نشي کېدای یوازې تیکنوکراتیکه بڼه ولري. ددې لپاره چې د بریا یو مناسب لید لوری شتون ولري، د قانون د حاکمیت هڅې باید د حقوقي نظم د محلي مشروعیت بنسټونو سره په همغږۍ تر سره شي، چې یاد بنسټونه په اکثرو وختونو کې په غیر دولتي واک کې ریښې لري او د لوړ رتبه دولتي چارواکو په شمول د باور وړ داخلي شریکانو له مرستې برخمن وي.

**لیکوال**
جېفري سوینسن د نړیوالو اړیکو او مقایسوي سیاست شنونکی دی چې څېړنه یې د دولت-جوړونې، د قانون حاکمیت او له شخړې راوتلو او شخړې نه اغېزمنو ټولنو کې د مختلطې حکومتولۍ په موضوعاتو تمرکز لري. هغه له اکسفورډ پوهنتون څخه د سیاسي علومو په برخه کې دوکتورا لري او د لندن ښار پوهنتون (City, University of London) د نړیوالو سیاستونو استاد دی. د هغه علمي اثار په بې ثباته دولتونو کې د عدالت تطبیق او د نهادونو پرمختګ باندې ورټول دي، چې په لیکنو کې یې افغانستان او ختیځ تیمور ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. هغه په مخکښو علمي ژورنالونو او پالیسي خپرونو کې پراخې لیکنې خپرې کړې دي او د حقوقي اصلاحاتو، سولې جوړونې، او نړیوالو لاسوهنو په برخو کې هم علمي او هم عملي مخاطبینو سره اړیکه نیسي.

**هُما سعید او سټیفان پارمینتییر، کله چې خرګوشان د ګازرو څښتنان وي: د ځمکې غصب، انتقالي عدالت او اقتصادي-دولتي جرم په افغانستان کې**

**لنډیز**
افغانستان په دې اړه یو ښه مثال دی، چې د انتقالي عدالت د میکانیزمونو د نشتوالي له امله د پخوانیو رژیمونو د بشري حقونو ناقضین څرنګه په واک کې پاتې کیدای او له معافیت برخمن کیدای شي او دغه ډول خلک بیا څرنګه نور جرایم سر ته رسوي. دا مقاله په ځانګړي ډول د ځمکو غصب د اقتصادي دولتي جرم د یو شکل په توګه تر بحث لاندې نیسي.
د ۲۰۱۳–۲۰۱۴ کلونو تر منځ په کابل کې د میداني څېړنې په وسیله راټول شوي معلومات ښیي چې هغه اقتصادي جرم چې د دولت د دستګاه له لوري پارول کېږي، ملاتړ او اجرا کېږي، د «دولتي جرم» یوه ښه ده چې جرمپوهنه یې باید په جدي توګه وڅېړي. د جرم پوهنې له لورې، په ځانګړې توګه د ټولنیزو–اقتصادي حقونو د سرغړونو په اړه څېړنې، د اقتصادي او په همدې اساس د دولتي جرمونو په توګه، ډېرې محدودې دي، په ځانګړي ډول په شخړهځپلو او له شخړې وروسته ټولنو کې. له شخړې وروسته افغانستان کې د اقتصادي-دولتي جرم باندې په تمرکز سره، مونږ کوښښ کوو تر څو د انتقالي عدالت او جرم پوهنې تر منځ دودیزه فاصله له منځه یوسو.

**لیکوالان**
هُما سعید د لوون پوهنتون د جرمپوهنې انستیتیوت (KU Leuven) څېړونکې ده. د هغې څېړنه د انتقالي عدالت، بشري حقونو او دولتي تاوتریخوالي پر موضوعاتو تمرکز لري. هغه د لندن اقتصاد پوهنځي څخه د بشري حقونو ماسټري لري او خپله دوکتورا په لوون کې بشپړوي. سټیفان پارمینتییر د لوون پوهنتون د جرم ، حقوقو او بشري حقونو د ټولنپوهنې

پروفیسور او د لوون پوهنتون د جرمني‌پوهنې انستیتیوت ارشد غړی دی. د هغه څېړنې په انتقالي عدالت، ترمیمي عدالت، د مجني علیه حقوق، او بشري حقونو ورټولې دي او په دې برخه کې پراخې څېړنې او تدریس کړی دی.

**وولف پلېسمان او ټیلمَن ي. روډر، په افغانستان کې د عدلي اصلاحاتو لپاره د نړیوالو مرستو همغږي**

**لنډیز**

لیکوالان د المان دولت او مدني ټولنې د فعالانو په حیث د خپلو تجربو پر بنسټ په افغانستان کې د عدلي اصلاحاتو لپاره د نړیوالو مرستو همغږي تحلیلوي. دا همغږي په دوو کچو کې اړینه ده: لومړی، له کوربه/شریک دولت سره نږدې همکاري؛ دویم، له نورو نړیوالو لوبغاړو سره همغږي، تر څو مؤثریت زیات کړي. مګر؛ په عمل کې په دواړو برخو کې همغږي له ننګونو سره مخ ده، په ځانګړي ډول په هغو حالاتو کې کله چې د سیمه ایز حکومت ظرفیت ټیټ وي او ګڼ شمېر نړیوال لوبغاړي د قانون د حاکمیت د پرمختګ په مورد کې د برخه اخیستنې هڅه کوي. افغانستان په دې برخه کې یوه ستونزمنه قضیه وه او ده. دا مقاله د مختلفو ذیدخلو لوریو تر منځ د همغږۍ هڅې تر شننې لاندې نیسي او د هغو عواملو پلټنه کوي چې له امله یې د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۴ کلونو تر منځ دغه هڅې ناکامې شوې. مقاله په دې لیدلوریو سره راټولېږي چې د حقوقي همکاریو همغږي څرنګه ښه کېدای شي.

**لیکوالان**

ډاکټر ټیلمان ي. روډر د برلین ازاد پوهنتون لوړپوړی څېړونکی او د جرمني د فدرالي بهرنیو چارو وزارت سلاکار دی. له دې مخکې نوموړي د ماکس پلانک د عامه مقایسوي حقوقو او نړیوالو حقوقو انستیتیوت او د ماکس پلانک د نړیوالې سولې او قانون حاکمیت بنسټ په استازیتوب د قانون حاکمیت ګڼ پروګرامونه تنظیم کړي. وولف پلېسمان، چې اوس د برلین د ایالت د فدرالي چارو ریاست مشري کوي، په افغانستان کې د نړیوالې همکارۍ لپاره د المان ادارې (GIZ) سره کار کړی. نوموړی د ماکس پلانک بنسټ د مدیریت سره همکاري کوي او د یاد بنسټ د افغانستان د ټیم سره د سلاکار په حیث دنده اجرا کوي.